# دَ خال قامي مدرسه - مفروضې او حقائق

## The National School of Khal: Assumptions and Fact

Saeed Ahmad Sahil[1]


**ABSTRACT**

*Khal is part of District Dir and has a distinctive political, spiritual and educational background. The land has given birth to a number of personalities who earned name in educational, social and political fields. During the Dir State era, the Khal area remained a center place in the political and educational spheres. The British confidential documentary sources have also given space to the area and the developments that took place at that point of time. From the historical point of view, the establishment of National School at Khal is an important event. The National School was founded in 1922 and the historical accounts have provided different versions about it. Due to conflicting opinions of different writers, the actual characters and causes have been ignored and have not been explored as yet. In this article, an attempt has been made to provide a true picture of the important event in the light of authentic primary sources. The various queries about its foundation, the main characters responsible for its establishment, the supervision of the School, the duration of its existence, the numbers of enrolled students and its closure, will be answered.*



**Key words:**

Dir State, Nawabs, Education, Fazal Mahmud Makhfi, Bacha Khan, Anti-British Activities, Khal National School.


په انتظامي لحاظ سره "خال" د کوز دير برخه ده چې د خپلې مردم خېزې په اساس خپل يو علمي، روحاني او سياسي تاريخ لري . دې خاؤرې ډېر علمي، روحاني، سماجي او سياسي شخصيات زېږولي دي چې د ژوند په مختلفو شعبو کښې ئې پياوړې وظيفې تر سره کړي دي . په رياستي دور کښې هم او په وروستو دورونو کښې هم دا خاؤره د علمي او سياسي هلو ځلو مرکز

[1] Ph.D. Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

پاتې شوي ده ـ فیرنګي سرکار هم په خپلو خفیه دستاویزاتو کښې دا خاؤره د فیرنګي ضد سازشونو آماجګاه ګڼلې ده ـ دلته چې څومره فیرنګي ضد مبارزین پاتې شوي دي نو د هغوي هلې ځلې هم د فیرنګي سرکار لهٔ خوا د ژور نظر لاندې ساتلے شوي دي ـ په تاریخي اعتبار سره د دې خاؤرې د شهرت یوه وجه هغه فیرنګي ضد "قامي مدرسه" هم ده، کومه چې په کال 1922ء کښې دلته قائمه کړې شوې وه ـ د دې قامي مدرسې د قیام په حقله په مختلفو ماخذونو کښې مختلف روایات موجود دي چې د دې تعارض په نتېجه کښې د دې قامي مدرسې اصل محرکات او کردارونه پس منظر ته تللي دي ـ په کال 1920ء کښې چې کله د تحریکِ هجرت مطلوبه نتائج ترلاسه نهٔ شو نو عبدالغفار خان المعروف باچا خان د افغانستان نه باجوړ او ازاد قبائلو ته د دې عزم سره د راستنېدو فېصله وکړه چې په تعلیمي مېدان کښې خپل خدمات وړاندې کړي ـ په دې سلسله هغوي ریاستِ دیر ته هم راورسېدل او دلته ئې هم د تعلیم په حقله د شعور پېدا کولو د پاره خپلې هڅې وکړې ـ په خپل خود نوشت "زما ژوند او جدوجهد" کښې په دې حقله لیکي:

> "د هغې نه پس د دیر علاقې ته لاړو ـ خالونو نومې کلي ته راغلو ـ د خالونو په کلي کښې اخونزادګان او پراچګان اباد دي ـ دا دواړه کورنۍ ډېرې روشنفکره او ښهٔ خلق دي ـ دواړه قوم پرست او دولتمند وو ـ د دوي په مرسته مونږ دلته یوه مدرسه جوړه کړه او دوي ته مو ووئیل چې د دې مدرسې د انتظام د پاره مخفي صاحب راوغواړئ او مونږ تري دیر ته لاړو ـ دې مدرسې ډېره زر ترقي وکړه او په لږه موده کښې ئې شاګردان څلورو سوو ته ورسېدل ـ د ملاکنډ پولېټېکل اېجنټ د پښتنو د بېدارۍ سخت مخالف وهٔ ـ هغهٔ د دیر نواب وغوښت، ورته ئې ووئیل چې دې مدرسو او تعلیم مونږ ته څومره مشکلات پېدا کړل، تهٔ ځان له دا مشکلات مهٔ پېدا کوه ـ دا مدرسه ورانه کړه ـ د دیر نواب راغے، مدرسه ئې ورانه کړه، اور ئې ورته کړهٔ".[1]

وړاندې لیکي:

> "مونږ چې دیر ته ورسېدو نو د شاهو بابا د زوي سره چې د ترنګزو د حاجي صاحب ماذون وهٔ او په ترنګزو کښې مونږ سره

اشنا شوے وۀ، ډېره شو. هلته مو څو شپې وکړې. يوه شپه د نواب صاحب استازے صفدر خان راغے، راته ئې ووئيل چې نواب صاحب غوښتے ئې. ما وې اوس شپه ده، ناوخته دے، سبا به لاړ شو. هغۀ ووې چې هم د شپې ئې غوښتے ئې. زۀ ورسره روان شوم چې ورغلو نواب صاحب زما په انتظار کښې يواځې ناست وۀ. هيڅوک ورسره نۀ وو. په خبرو کښې ئې راته ووئيل چې پټ په زړۀ کښې مې انګرېز ډېر بدي شي، تۀ چې څۀ غواړې، زما هم دغه ارزو ده څو زۀ څۀ وکړم، ميا ګلے (د سوات باچا) ئې راته کښېنولے دے، چې ايله حرکت وکړم، راباندې ئې را اچوي، کۀ سبا د قام او خلقو په مخکښې ما ستا د خبرو مخالفت وکړۀ نو چې تۀ خفه نۀ شې. زما د زړۀ مينه او پټه مرسته به تاسره وي".[2]

لۀ دې نه وروستو عبدالغفار خان براول باندې، جار، خار، ناوګۍ، غازي اباد ته هم ځي او بيا خپل وطن ته ستنيږي. د فيرنګي سرکار خفيه دستاويزات هم رياستِ دير ته د عبدالغفار خان د راتګ تصديق کوي او د هغوي د سرګرميو په حقله هم معلومات راکوي. د صوبې د چيف کمشنر اسسټنټ سيکرټري جے. جي ايچيسن د 29 اکتوبر 1920ء په هفته وار خفيه ډائيرئ کښې په دې حقله ليکي:

Reference paragraph 1 of Diary No. 41. Abdul Ghafar Khan of Utmanzai, the well-known agitator, arrived in Jandul on 16th October. It is understood that he desires to return to British territory.[3]

ژباړه: د ډائيري نمبر41 د پيراګراف نمبر1 په حواله: د اتمانزئ مشهور مبارز عبدالغفار خان د اکتوبر په شپاړسمه نېټه جندول ته ورسېدۀ. دا هم يقيني ده چې هغۀ دا خواهش لري چې د فيرنګي علاقې ته راستون شي.

بيا د 05 نومبر 1920ء په يوه بله هفته وار خفيه ډائيرئ کښې ليکي:

Reference paragraph 3 of Diary No. 42. Abdul Ghafar Khan arrived in Dir on 21st October and is staying in Haryan Kot. He visited the Nawab and made a speech exhorting the assembly to promote education as a means of securing Muslim unity. His address was coldly received by the Nawab.[4]

ژباړه: د ډائيري نمبر42 د پيراګراف نمبر3 په حواله: عبدالغفار خان د اکتوبر په يويشتمه نېټه دير ته ورسېدۀ او په ريحان کوټ کښې استوګن دے . هغۀ د نواب سره ملاقات وکړۀ او په خپل تقرير کښې ئې اسمبلي ته د تعليم په وده تاکيد راؤړو چې د مسلمانانو د يووالي د وسيلې په توګه په کار راشي . د هغۀ دا تقرير نواب په سرد مهرئ سره اخيستے دے .

او بيا د 13 نومبر 1920ء په يوه بله هفته وار خفيه ډائيرئ کښې ليکي:

Reference paragraph 1 of Diary No. 43. Abdul Ghafar Khan has left Dir and is now at Khar in Bajaur.[5]

ژباړه: د ډائيري نمبر43 پيراګراف نمبر1 په حواله: عبدالغفار خان لۀ دير څخه وتلے دے او اوس د باجوړ په خار کښې دے .

لۀ دې خفيه دستاوېزاتو څخه دا جوتيږي چې عبدالغفار خان په 16 اکتوبر 1920ء د جندول سيمې ته رارسېدلے دے او بيا په 21 اکتوبر 1920ء خاص دير ته رارسېدلے دے . په ريحان کوټ دير کښې د خليل الرحمان المعروف شاؤ باباجي د ځوي شهزاده صاحب سره پاتې شوے دے . د نواب اورنګ زيب خان سره ئې هم ليدل کتل شوي دي او دلته ئې د تعليم او اتحاد په حقله د خپلو خيالاتو څرګندونه هم کړې ده . دغه شان د 13 نومبر 1920ء نه وړاندې بيا لۀ رياستِ دير څخه د باجوړ او بالاخر خپلې سيمې ته راستون شوے دے . اوس د فيرنګي سرکار هغه خفيه دستاوېزات مخې ته راؤړو چې د خال د دې قامي مدرسې په حقله پکښې حقائق موجود دي . د صوبې د چيف کمشنر اسسټنټ سيکرټري مېجر آر . اي . ايچ ګريفت د 30 اپرېل 1922ء په هفته وار خفيه ډائيرئ کښې د دې قامي مدرسې د بنياد په حقله ليکي:

There is considerable fresh activity in the matter of establishing pan-Afghan schools. During the week the Shahzada of Rehankot laid the foundation stone for a school at Khal, the site for which was purchased by Mian Said Seth of Khal for Rs. 2800 Kabuli. The villagers are busily engaged in collecting stones. After the ceremony of laying the foundation stone, Maulvi Makhfi delivered and

impassioned speech, advocating the use of swadeshi articles. Maulvi Makhfi and a Hindustani named Muhammad Fakir, who is said to be a muhajir from Panipat, are superintending the construction of the school. The Chamarkand revolutionaries have also started a similar school, and have at present ten local Pathan pupils. The Haji of Turangzai has also opened schools at Ziarat Khazina in Safi Country and at Sheikh Baba in Shinwari Country. From this it is obvious that fresh impetus has been given to this movement, doubtless from Kabul.[6]

ژباړه: د پان افغان سکولونو د جوړولو په حوالې سره د پام وړ تازه فعالیت شتون لري . د دې هفتې په دوران کښې د ریحان کوټ شهزاده په خال علاقه کښې د یو سکول د بنیاد تېږه کېښوده چې د دې سکول د پاره ځاے د خال د میا سېد سېټ لۀ خوا په دوه زره اتۀ سوه کابلۍ روپو واخیستل شۀ . د علاقې خلق د کانړو په راټولولو بوخت دي . د سنګِ بنیاد د مراسمو نه وروستو مولوي مخفي په زړه پورې او جذباتي وینا وکړه او د سودیشي (ملکي) څیزنو په کارولو ئې زور راؤړو . مولوي مخفي او یو هندوستاني چې نامه ئې محمد فقیر ده او وئیل کیږي چې پاني پت یو مهاجر دے، د دې سکول د تعمیر سرپرستي او نګراني کوي . د چمرکند انقلابي مبارزینو هم د دې په تقلید کښې همدغه شان سکول پرانستے دے او دا مهال لس پښتانۀ زده کوونکي لري . د ترنګزو حاجي هم د صافو په سیمه کښې په زیارت خزینه او د شینوارو په سیمه کښې په شېخ بابا کښې هم سکولونه پرانیستي دي . لۀ دې څخه څرګندیږي چې بغېر د څۀ شک نه دغه تحریک له تقویت د کابل څخه ورکړل شوے دے .

لۀ دې پورتني خفیه دستاوېز نه دا جوتیږي چې د خال د قامي مدرسې بنیاد د 30 اپرېل 1922ء نه وړاندې هفته کښې ایښودے شوے دے . د دې قامي مدرسې د بنیاد تېږه د فیرنګي ضد مبارز شهزاده صاحب په لاس ایښودے شوې وه، څوک چې د ریحان کوټ د روحاني پېشوا خلیل الرحمان المعروف شاؤ باباجي دویم ځوے وۀ .[7] د دې قامي مدرسې د پاره زمکه د

خال نوموړي تاجر میا سید سېټ په دوه زره اتۀ سوه کابلی اخیستي وه ۔ د کلي خلقو ئې په تعمیر کښې رضاکارانه خدمات وړاندې کړي دي ۔ د سنګِ بنیاد په دې دستوره کښې ئې فضل محمود مخفي پرجوشه تقریر کړے دے ۔ د فضل محمود مخفي او هندوستاني مهاجر محمد فقیر په نګرانی کښې د دې تعمیر سر ته رسېدلے دے ۔ دغه شان بیا د دې په تقلید کښې د چمرکنډ مجاهدینو او حاجي صاحب ترنګزئي هم په دې طرز قامي مدرسې قائمې کړي دي ۔ دا خفیه دستاوېز د خال د قامي مدرسې د جوړښت په حقله د عبدالغفار خان د هغه دعوې تردید کوي، کومه چې هغوي په خپل خودنوشت کښې قائمه کړې ده ۔ څکه چې هغوي په 16 اکتوبر 1920ء د جندول سیمې ته او په 21 اکتوبر 1920ء د خاص دیر رارسېدلي وو او بیا د 13 نومبر 1920ء نه وړاندې لۀ دیر څخه بېرته باجوړ ته ستون شوي دي ۔ د خال د قامي مدرسې د بنیاد تیږه د هغوي ریاستِ دیر ته د راتګ نه تقریبا اتلس میاشې یعني پوره یو نیم کال وروستو د 30 اپرېل 1922ء نه وړاندې هفته کښې ایښودے شوې ده ۔ کله چې د خال د قامي مدرسې بنیاد کېښودے شۀ نو عبدالغفار خان په دغه وخت کښې د فیرنګي لۀ خوا په قید کښې بندي وۀ چې تفصیلات ئې د هغوي په خودنوشت "زما ژوند او جدوجهد" کښې موجود دي ۔ د هغوي د خپلې وینا مطابق هغوي په 17 دسمبر 1921ء د ایف سي آر دفعه نمبر40 لاندې ګرفتار کړے شوي وو او په مختلفو جېلونو کښې د درې کاله قیدِ بامشقت تېرولو نه وروستو آزاد کړے شوي وو ۔[8] لۀ دې نه دا خبره څرګندیږي چې د خال د قامي مدرسې د ودانېدو نه واخله تر وړانېدو پورې په دغه زمانه کښې عبدالغفار خان د فیرنګي لۀ خوا د قیدِ بامشقت ورځې شپې تېرولې ۔ دغه شان د فیرنګي سرکار په خفیه دستاوېزاتو کښې د خال د قامي مدرسې په حقله د عبدالغفار خان تذکره چرته هم په نظر نۀ راځي ۔ لۀ دې نه دا څرګندیږي چې د خال قامي مدرسه د فضل محمود مخفي کارنامه وه او د هغوي د تعلیمي هلو ځلو په نتېجه کښې مخې ته راغلې وه ۔ فیرنګي سرکار هم په خپلو خفیه دستاوېزاتو کښې دا قامي مدرسې او بالخصوص د ریاستِ دیر قامي مدرسې د فضل محمود مخفي د قامي مدرسو په نامه یادې کړې دي ۔ د فیرنګي سرکار د 09 ستمبر 1922ء د یوې هفته وار خفیه ډائیرئ نه دا هم جوتیږي چې فضل محمود مخفي د خپلو تعلیمي ادارو د پاره د سالانه وظیفې په سلسله

کښې کابل ته سفر کړے دے او په "المدينه" مجلې کښې ئې د خپلو تعليمي ادارو د پاره د اسسټنټ منېجر او هيډ ټيچر د پاره اشتهار هم ورکړے دے . د صوبې د چيف کمشنر اسسټنټ سيکرټري مېجر آر . اې . ايچ ګريفت ليکي:

Maulvi Makhfi has gone to Kabul to receive his annual subsidy of Rs. 700 (Kabuli). His confederate Sherin Khatak, is still at Dir. An article in the Madina, a bi-weekly vernacular journal of Bijnor, United Province issue, dated the 25th August 1922, gives some indication of the propaganda now at work. The same issue also contains an advertisement requiring the services of an assistant manager and a head teacher for Maulvi Makhfi's schools.[9]

مولوي مخفي د خپلې سالانه وظيفې چې اووۀ سوه کابلی روپی دي، د ترلاسه کولو د پاره کابل ته تشريف وړے دے . د هغه معاون ملګرے شيرين خټک لاً اوس هم په دير کښې دے . د ۲۵ اګست ۱۹۲۲ء د متحده صوبې د بجنور په دري ورځنی علاقائي مجله "مدينه" کښې يوه مقاله د پروپېګنډې اشارې ورکوي چې دا مهال رواني دي . هم دا مذکوره مجله يو اشتهار هم لري چې د مولوي مخفي سکولونه د اسسټنټ منېجر او صدر مدرس خدماتو ته اړتيا لري .

د فيرنګي سرکار د 20 جنوري 1923ء د يوې هفته وار خفيه ډائيرى نه دا هم جوتيږي چې فضل محمود مخفي په رياستِ دير کښې د اسلامي افکارو د تشهير سره سره د خال او کوټو د قامي مدرسو د پاره د مالي پنګې د پاره هم هلې ځلې جاري ساتلي دي . د صوبې د چيف کمشنر اسسټنټ سيکرټري مېجر آر . اې . ايچ ګريفت ليکي:

During the week Maulvi Makhfi has been active in preaching Islamic doctrines and in collecting subscriptions for the Schools at Khal and Kotu, both of which are situated within the limits of the Dir State.[10]

ژباړه: د دې هفتې په دوران کښې مولوي مخفي د اسلامي افکارو په تبليغ او د خال او کوټو د سکولونو د پاره کوم چې د رياستِ دير په حدودو کښې واقع دي، د مالي پنګې د راټولولو په عمل کښې متحرک دے .

دغه شان د فيرنګي سرکار د 29 جنوري 1923ء د يوې هفته وار خفيه ډائيرئ نه دا هم جوتيږي چې فضل محمود مخفي په رياستِ دير کښې څلور سکولونه يعني دير، خال، کوټو او مانوګي کښې پرانيستي وو . لۀ دې خفيه دستاويز څخه دا هم جوتيږي چې د خال په قامي مدرسه کښې يو مدرس اخونزاده عبدالمومن هم وۀ چې د کمې معاوضې په بنياد ئې لۀ دې قامي مدرسې څخه د پنځلس شاګردانو سره اخراج کړے وۀ . لۀ دې خفيه دستاويز نه د دې سکولونو د زده کوونکيو د تعداد اندازه هم کيږي . دغه شان دا د خال د قامي مدرسې په حقله د هغې مبالغې هم ترديد کوي چې په لږه موده کښې ئې د زده کوونکيو تعداد څلورو سوو ته رسېدلے وۀ . د صوبې د چيف کمشنر اسسټنټ سيکرټري مېجر آر . اي . ايچ ګريفت ليکي:

> Abdul Momin Akhunzada, a teacher in the Khal school, has withdrawn and taken 15 pupils with him on the ground that his present pay is less than he previously gained by private tution. The following statement shows the number of pupils at present attending Maulvi Makhfi’s schools in Dir territory: Dir, 60 boys; Khal, 45; Koto, 60; Manogai, 15.[11]

> ژباړه: د خال د سکول يو استاذ عبدالمومن اخونزاده په دې بنياد د پينځلس شاګردانو سره وتلے دے چې موجوده معاوضه ئې د پخوانئ ذاتي معلمئ په مقابله کښې ډېره کمه ده . دا لاندې بيان د رياستِ دير په سيمه کښې د مولوي مخفي په سکولونو کښې د زده کوونکيو شمېر داسې ښائي: دير کښې شپېتۀ زده کوونکي، خال کښې پينځه څلوېښت زده کوونکي، کوټو کښې شپېتۀ زده کوونکي، مانوګي کښې پينځلس زده کوونکي .

لۀ دې نه د دې خبرې څرګندونه کيږي چې د مالي مشکلاتو په اساس د خال د قامي مدرسې په استاذانو او شاګردانو کښې کمے راغلے چې په نتيجه کښې ئې دا قامي مدرسه د زوال سره مخ شوې هم ده . لکه د فيرنګي سرکار د 03 جنوري 1923ء په يوه هفته وار خفيه ډائيرئ کښې مېجر آر . اي . ايچ ګريفت په دې حقله ليکي:

> All but eleven boys have deserted Maulvi Makhfi’s School at Khal. Most of the former students have returned to the mosque schools.[12]

ژباړه: د یوولس زده کوونکیو نه علاوه نور ټول د مولوي مخفي د خال لۀ سکول څخه وتلي دي . ډېر سابقه زده کوونکي د جوماتونو سکولو ته راستانۀ شوي دي .

دغه شان د فیرنګي سرکار د 26 فروري 1923ء د یوي بلي هفته وار خفیه ډائیرئ نه هم د دې خبرې تصدیق کیږي چې د مالي مشکلاتو سره سره د نواب اورنګ زېب خان لۀ خوا د دې په عملي هم بندېزونه لګولے شوي دي . لکه مېجر آر . اي . ایچ ګریفت لیکي:

The schools at Dir and Khal are at present in a very languishing condition. The Nawab has forbidden Sherin Khatak to return to Dir. Maulvi Makhfi returned yesterday to Khal. It is said that he went to Batal, Hazara, with Muhammad Ayub Khan of that place.[13]

ژباړه: په موجوده وخت کښې د دیر او خال سکولونه په ډېر خراب حالت کښې دي . نواب په شیرین خټک ریاستِ دیر ته په راتګ بندېز لګولے دے . مولوي مخفي پرون بېرته خال ته راستون شوے دے . وئیلے کیږي چې هغۀ د هغه ځاے د محمد ایوب خان سره باټل هزارې ته تلے دے .

دغه شان د فیرنګي سرکار د 05 مارچ 1923ء یوه بله هفته وار خفیه ډائیرئ د مالي مشکلاتو سره سره د دې یوه وجه دا هم ښائي چې په فضل محمود مخفي باندې د بالشویک ایجنټ الزام د هغۀ په مشکلاتو کښې نوره هم اضافه کړې وه . مېجر آر . اي . ایچ ګریفت لیکي:

Disappointed in this quarter, Sherin Khan, together with Maulvi Makhfi and certain Indian Muhajirin, proceeded to Kotki to try to enlist the sympathy and influence of the Shahzada of Rehankot in favour of their various schemes. The latter individual does not attempt to conceal his anti-British tendencies. Maulvi Makhfi's local influence is declining owing firstly to his now being short of funds and secondly to fact that the tribesmen suspect him to be Bolshevist Agent.[14]

ژباړه: دلته د مایوسه کېدلو نه وروستو شیرین خان د مولوي مخفي او ځیني نورو هندوستاني مهاجرینو سره یو ځاے کوټکي لاړل چې هڅه وکړي چې د ریحان کوټ د شهزاده همدردي او اثر د خپلو مختلفو منصوبو په حمایت کښې ترلاسه کړي . موخر

الذکر فرد (شهزاده صاحب) دا هڅه نهٔ کوي چې خپل فيرنگي ضد مېلانات په پرده کښي وساتي . د مولوي مخفي علاقائي اثر په کمېدو دے ځکه چې يو خو هغهٔ د مالي ستونزو سره مخ دے او بل په قبائلي خلقو کښي دي شک ځاے نيولے دے چې هغهٔ د بالشويک ايجنټ دے .

د فيرنگي سرکار د خفيه دستاوېزاتو نه دا هم څرگنديږي چې د خال دا قامي مدرسه د رياستِ دير د سپه سالار صفدر خان په ايماء او د نواب محمد اورنگ زېب خان په سپارښتنه ولي عهد محمد شاه جهان خان ورانه کړي وه، ځکه چې نواب محمد اورنگ زېب خان په دغه وخت کښي د هندوستان په دوره وهٔ او سپه سالار صفدر خان ورسره په دي دوره کښي ملگرے وهٔ . د فيرنگي سرکار د 19 مئي 1923ء په هفته وار خفيه ډائيرئ کښي مېجر آر . اي . ايچ گريفت په دې حقله ليکي:

The Nawab of Dir has written from Karachi to Khan Bahadur Shah Jehan Khan, directing him to demolish Makhfi's School at Khal. He has also written to the Shahzada of Rehankot, advising him to abstain from encouraging these institutions. This action by the Nawab probably indicates that the influence of his travelling companion, Safdar Khan, is now high and the latter is endeavoring to make matters difficult for Khan Bahadar Shah Jahan.[15]

ژباړه: د رياستِ دير نواب لهٔ کراچۍ څخه خان بهادر شاه جهان خان ته په يو ليک کښي دا هدايت وکړهٔ چې په خال کښي د مولوي مخفي سکول ړنگ کړه . دغه شان ئې د ريحان کوټ شهزاده ته هم په يو ليک کښي هدايات جاري کړي دي چې د دي تعليمي ادارو د حوصله افزائی نه ځان وساتي . د نواب دا اقدام د دې خبرې غمازي کوي چې د هغهٔ د همسفر ملگري صفدر خان اثر پرې ډېر زيات شوے دے . موخر الذکر (سپه سالار صفدر خان) دا کوشش کوي چې د ولي عهد خان بهادر شاه جهان خان معاملات ستونزمن کړي .

د فيرنگي سرکار لهٔ دې خفيه دستاوېز څخه دا جوتيږي چې د نواب اورنگ زېب خان د دې عمل په شا باندې د هغهٔ د همسفر او سپه سالار صفدر خان لاس وهٔ ځکه چې سپه سالار صفدر خان د ولي عهد شاه جهان خان په مقابله

کښې د د هغهٔ ورور عالمزېب خان طرفدار وهٔ او په دې کوشش کښې وهٔ د ولي عهد شاه جهان خان د پاره ستونزې پېدا کړي . دا دستاوېز د دې دعوې هم تردید کوي چې د خال قامي مدرسه د ملاکنډ پولیټیکل ایجنټ په حکم ورانه کړے شوې وه . دغه شان د ریاستَ دیر سره متعلقه د فیرنګي په خفیه دستاوېزاتو کښې داسې دستاوېز هم په نظر نهٔ راځي چې د خال د قامي مدرسې په حقله پکښې د ملاکنډ پولیټیکل ایجنټ لهٔ خوا د ورانولو حکم صادر شوے وي . البته داسې دستاوېزات ضرور په نظر راځي چې د فضل محمود مخفي او د هغوي د مبارز ملګرو د فیرنګي ضد عملیاتو د مخنوي په حقله پکښې احکامات صادر شوي دي . د ریاستِ دیر په حقله چې څومره تاریخ مواد موجود دي نو تقریبا په دغه ټولو کښې د ولي عهد شاه جهان خان په مقابله کښې د هغهٔ د ورور عالمزېب خان د طرفدارئ الزام په سپه سالار صفدر خان ضرور شته . د دې سره سره په نواب اورنګ زېب خان باندې ئې د ژور اثراتو څرګندونه هم کیږي . لکه سلېمان شاهد لیکي:

"صفدر خان (بہادر شاہ خیل) چاڑہ نواب کا مشیر خاص، فوج کا سپہ سالار، وزارت خزانہ اور کئ دوسرے اہم امور کے اختیارات رکھتا تھا۔ براول کے بہادر شاہ خیل قوم میں بہت اثر دخل ہونے کے علاوہ ان کے دو بیٹے علاحدہ قلعوں کے صوبیداران اور ماموں شاگے ملک ایک دوسرے قلعے کا حاکم تھا۔ یہ سپہ سالار چونکہ نواب کے دوسرے بیٹے عالمزیب خان کو دیر کا حکمران بنانے کا سخت حمایتی تھا۔ اسی شام کو جب نواب کی لاش محل کے ایک حصے میں خفیہ رکھی گئی تھی، والد کی موت کو صیغہ راز میں رکھ کر ولی عہد سپہ سالار کے گھر پر حملہ آور ہوا۔ اس خدشے سے کہ نواب کی موت کی خبر پا کر اقتدار لینے کی صورت میں مزاحمت نہ کر سکے۔ اس حملے کی اطلاع پہلے سے سپہ سالار کو ملی اور انہوں نے اندھیرے میں گھر سے فرار ہو کر انگلش لیوی پوسٹ میں پناہ لی۔ وہاں سے انگریزوں نے سپہ سالار کو ملاکنڈ کے قید خانے میں منتقل کیا"۔[16]

ژباړه: صفدر خان (بهادر شاه خېل) د چاړا نواب مشیر، د فوځ سپه سالار، وزیر خزانه او د نورو ډېرو اهم امورو اختیار لرلو . د براول په بهادر شاه خېل قام کښې د پوره اثر لرلو نه علاوه ئې دوه ځامن د ځانله ځانله قلعه ګانو صوبیداران او ماما شاګے ملک ئې د ځانله قلعې حاکم وو . دا سپه سالار د نواب د دویم ځوي عالمزېب خان په حېث د دیر

د حکمران جوړولو زیات طرفدار وه . په هغه شپه چې د نواب لاش د محل په یوه برخه کښې پټ ایښودے شوے وۀ، د پلار مرګ ئې په پرده کښې د ساتلو سره ولي عهد د سپه سالار په کور حمله وکړه . لۀ دي ویرې چې د نواب د مرګ د خبر اوریدو په صورت کښې مزاحمت اونۀ کړي . د دې حملې اطلاع د وړاندې نه سپه سالار ته رسېدلې وه او هغۀ په تیارۀ کښې لۀ کور څخه اووتلو او د فیرنګي په لیوي پوسټ کښې ئې پناه واخیسته . لۀ دغه ځایه فیرنګیانو سپه سالار د ملاکنډ قېد خانې ته منتقل کړۀ .

دغه شان د میر منشي حبیب الرحمان د دې لاندې اقتباساتو نه په اسانه دا اندازه کېدے شي چې سپه سالار صفدر خان او عالمزېب خان د یو بل د پاره څومره اهم وو، د یو بل سره څومره په رابطه کښې وو او د نواب شاه جهان خان د پاره څومره د خطرې باعث وو .

"صفدر خان ملاکنڈ میں ایک دوماہ گذارنے کے بعد عالمزیب خان جندول سے رابطہ قائم کرکے اس کے مشورہ کے موافق برطانوی حراست سے ایک معینہ تاریخ کو بھاگ نکلا۔ اس دن عالمزیب خان نے دریائے پنجکوڑہ کے کنارے بمقام تنگہ زیر دوشخیل اس کے لیے بہت سے شناوروں (پیراک) اور جالہ تیار کر رکھا تھا تاکہ صفدر خان کو دریا کے کنارے پہنچتے ہی جندول کی طرف روانہ کرایا جاسکے۔ بدقسمتی سے اس دن نواب دیر بمقام چکدرہ مقیم تھا جہاں اس کو ملاکنڈ سے صفدر خان کے فرار ہونے کی اطلاع ملی۔ نواب دیر نے فوراً دوشخیل اور علاقہ سندھ سرکاری اور قومی افراد کو اس کی تلاش میں نکلنے کے احکام جاری کئے اور ساتھ گرفتار کنندہ کو بھاری انعام دینے کا اعلان کیا"۔[17]

ژباړه: صفدر خان په ملاکنډ کښې د یوې میاشت دوه تېرولو نه وروستو د جندول د عالمزېب خان سره اړیکې ټینګې کړې او د هغۀ په مشوره باندې د فیرنګي لۀ قید څخه په یو معینه نېټه وتښتېدلو . په دې ورځ عالمزېب خان د هغۀ د پاره د پنجکوړې د سیند په غاړه په تنګه دوشخېل لامبوزن او جاله تیار ساتلي وو چې د صفدر خان د سیند غاړې ته په رارسېدو سره د جندول په لور روان کړي . د بد قسمتۍ نه په دغه ورځ

د دیـر نـواب پـه چکدره کښې استوګن وۀ او هلته ورتـه لـۀ ملاکنډ څخه د صفدر خان د تـښتېدلـو خبـر وشۀ . د دیـر نـواب فـورا د دوشخېل او علاقـه سینـد سرکـاري او قـامـي خلقـو تـه د هغۀ د لټون احکـامـات جـاري کـړل او د دي سره سره ئـې د نیونـکي د پـاره د درونـد انـعـام اعلان هم وکـړۀ .

وړانـدي لـیـکـي:

*"نواب دیر صفدر خان کی گرفتاری کا مژدہ سن کر وہاں سے عبدالرحیم خان سمکوٹ کو صفدر خان کو قتل کرنے کے لیے روانہ کر دیا۔ صفدر خان موضع کورو کی مسجد میں نماز ادا کر رہا تھا کہ عبدالرحیم خان اس کے سر پر فرشتہ اجل بن کر پہنچ گیا"۔*[18]

ژبـاړه: د دیـر نـواب چې د صفـدر خـان د ګرفـتـاری خبـر واؤرېـدۀ نـو د سمکوټ عبدالـرحیم خـان ئـې د هغۀ د وژلـو د پـاره ولـېـږلـو . صفـدر د کـورو پـه جـومـات کـښې مـونـځ ادا کـولـو چې عبدالـرحیم خـان ئـې پـه سر بـانـدي لـکـه د مـرګ د فـرښـتې اورېـدۀ .

لـۀ دي نـه دا هم څرګـنـدیـږي چې سپـه سـالار صفـدر خـان د مـرګ مـحـرکـات هم دغـه عملیـات وو چې د ولـي عهـد شاه جهـان خـان د پـاره ئـې معـامـلات پـه دي بـنـیـاد ستـونـزمـن کـول چې د نـواب دویـم ځـوي عـالـمـزېـب خـان تـه لاري هـواري کـړي . د خـال د قـامـي مـدرسي پـه شـا هم دغـه مـحـرکـات کـارفـرمـا ښـکـاري، حلانـکـې د خـال د قـامـي مـدرسي نـه علاه خـو پـه ریـاسـتِ دیـر کـښې د فـضل مـحـمـود مـخـفـي دري نـوري قـامـي مـدرسي هم مـوجـود وې . د فـیـرنـګي سرکـار د خـفـیـه دستـاویـزاتـو نـه دا هم څرګـنـدیـږي چې فـضل مـحـمـود مـخـفـي د خـال د دي قـامـي مـدرسي د وړانـېـدو نـه وروستـو د دي د بـیـا ودانـېـدو د پـاره هم هڅې کـړي دي . د 26 مـئي 1923ء پـه یـوه هـفـتـه وار خـفـیـه ډائـیـرۍ کـښې مېـجـر آر . اي . ایـچ ګـریـفـت لـیـکـي:

Maulvi Makhfi has gone to Khal and is trying to persuade the Akhunzadas there to rebuild his school at that place.[19]

ژبـاړه: مـولـوي مـخـفـي خـال تـه تـلـے دے او کـوشش کـوي چې د هغـه ځـاے اخـونـزادګـان وهـڅـوي چې هم پـه هغـه ځـاے کـښې خـپـل سکـول بـیـا جـوړ کـړي .

دا عېن مـمـکـن دہ چې فـضل مـحـمـود مـخـفـي د خـال د بـا اثـره اخـونـزاګـانـو پـه تـعـاون سره د خـال دا قـامـي مـدرسه د وړانـېـدو نـه وروستـو بـیـا ودانـه کـړي

وي ځکه چې د خال د دې قامي مدرسې ودانۍ اوس هم په خسته حالی کښې موجود ده . دغه شان د فيرنګي سرکار د کال 1933ء په يو بل خفيه دستاويز کښې د فضل محمود مخفي د پېژندګلو په ضمن کښې هم دا ليکلے شوي دي چې دا قامي مدرسه فضل محمود مخفي جوړه کړې وه:

Fazal Mahmud (Makhfi): Usualy known as Mulla Makhfi. Originally of Prang in the Charsadda Tehsil. Besides at Dhand in Salarzai country. Some years ago, he established anti-Government Schools in Khal, Dir and elsewhere, is believed to be a Bolshevik agent. In 1931 negotiated for a time for permission to return to British India but subsequently appears to have abandoned the idea.[20]

ژباړه: فضل محمود (مخفي): په عامه توګه په ملا مخفي شهرت لري . بنيادي طور د چارسدې تحصيل د پړانګ اوسېدونکے دے . د ډنډ ترخنګ د سلارزو په سيمه کښې . څو کاله وړاندې هغهٔ په خال، دير او نورو ځايونو کښې فيرنګي ضد سکولونه جوړ کړي دي . دا انګېرل کيږي چې د بالشويک ايجنټ دے . په کال 1931ء کښې ئې برطانوي هند ته د راستنېدو د اجازت د په سلسله کښې د څهٔ وخت د پاره خبرې اترې وشوې ولې خو وروستو داسې ښکاري چې دا اراده ئې پرېښودې وه .

د فيرنګي سرکار د پورتني ناقابلِ ترديد خفيه دستاوېزاتو نه دا په واضحه توګه څرګنديږي چې دا قامي مدرسې د فضل محمود مخفي د کوششونو په نتيجه کښې مخې ته راغلي وې . د دې قامي مدرسو د جوړولو، د دې د پاره د عملي د انتظام کولو او د دې د پاره د مالي اخراجاتو د بندوبست کولو په شا باندې د فضل محمود مخفي شخصيت موجود وهٔ . دا وجه ده چې د فيرنګي سرکار په خفيه دستاوېزاتو کښې دا مدرسې د فضل محمود مخفي د قامي مدرسو په نامه يادې شوې دي . لکه 07 جولائي 1923ء په هفته وار خفيه ډائيرئ کښې ټي . بي . کوپيلېنډ ليکي:

Maulvi Makhfi is now said to have gone to visit the Haji of Turangzai and the latter is reported to have obtained by subscription a sum of several thousands of rupees for Maulvi Makhfi's "National" Schools, which it is expected, will mainly be given to Maulvi Makhfi and the Hindustani Mullah, Muhammad Fakir. If this proves correct, it would be well to take up strongly the whole question of these

Schools with the Nawab of Dir, after His Excellency the Commander-in Chief has passed through Dir territory.[21]

ژباړه: وئیل کیږي چې مولوي مخفي اوس د ترنګزو د حاجي ملاقات له تلے دے . د موخرالذکر (حاجي صاحب ترنګزئي) دا هم وئیلے شي چې د مولوي مخفي د "قامي" سکولونو د پاره ئې د څو زره روپو اعانت ترلاسه کړے دے او امکان لري چې په غوره توګه به مولوي مخفي او هندوستاني ملا محمد فقیر ته ورکړل شي . کۀ دا خبره سمه ثابته شي نو ښه به دا وي چې د دې سکولونو ټوله پوښتنه د دیر لۀ نواب سره په کلکه وڅېړل شي، وروسته لۀ دې نه چې چیف کمانډر (لارډ راؤ لین سن) د دیر لۀ سیمې واؤړیدۀ .

فیرنګي سرکار د فضل محمود مخفي دا هلې ځلې د خپل ځان د پاره خطره محسوسوله . په دې بنیاد ئې د ریاستِ دیر نواب په دې مجبورولو چې د فضل محمود مخفي او د هغوي د همکارانو خلاف دې اقدامات وکړي . په دې سلسله کښې د پولیټیکل ایجنټ په موجودګی کښې د لړم په مقام یو اجلاس هم منعقد شوے وۀ چې د 14 جولائي 1923ء په هفته وار خفیه ډائیرئ کښې ئې احوال ټي . بي . کوپیلېنډ داسې بیانوي:

At a meeting held on the 6th July on the Laram, and in the presence of the Political Agent, the Nawab of Dir gave definite orders to leading Akhunzadas of Khal to remove Maulvi Makhfi from their midst. The Akhunzadas attempted to argue, but were angrily silenced by the Nawab. The result will be an interesting indication of the reality or otherwise of the Nawab's influence in Khal.[22]

ژباړه: د لړم په مقام د 06 جولائي په یو اجلاس کښې چې پولیټیکل ایجنټ پکښې هم موجود وۀ، د ریاستِ دیر نواب د خال سرکرده اخونزادګانو ته حتمي حکم وکړۀ چې مولوي مخفي لۀ خپله مېنځه څخه لرې کړي . اخونزادګانو د استدلال کوشش وکړۀ خو د نواب په غصه غلي پاتې شول . د دې نتیجه به د حقیقت په حقله یا په خال کښې د نواب د اثر په حقله دلچسپ او په زړۀ پورې اشارات وي .

د فيرنګي سرکار د 28 جولائي 1923ء د هفته وار خفيه ډائيرى نه دا هم څرګنديږي چې پوليټيکل ايجنټ د رياستِ دير نواب ته دوباره شکايت کړے چې فضل محمود مخفي او د هغوي ملګري لاَ تر دي دمه په رياستِ دير موجود دي ـ لکه ټي ـ بي ـ کوپيلډېنډ ليکي:

The Hindustani mullah (Muhamamd Fakir) has been compelled to leave Khal, and has gone to Maulvi Makhfi at Manogai. The Mullah who accompanied Maulvi Makhfi from Jalalabad is a Mohmand talib-ul-ilm, and is locally known as Mohmand Mullah. As Afridi, known as the Afridi Mullah, is also said to have accompanied Mullah Makhfi, and both are now reported to be at Manogai. On his way back from Jalalabad, Maulvi Makhfi stayed for a few days with the Haji of Turangzai. The Political Agent has written again to the Nawab regarding Maulvi Makhfi's continued residence in Dir territory.[23]

ژباړه: هندوستاني ملا (محمد فقير) په دي مجبور کړے شۀ چې خال پرېږدي او د مولوي مخفي خوا له مانوګي ته لاړ شۀ ـ هغۀ ملا چې د مولوي مخفي سره د جلال آباد نه راغلے دے نو هغۀ يو مومند زده کوونکے دے او په علاقائي توګه د مومند ملا په نوم پېژندے شي ـ دغه شان افريدي چې په افريدي ملا پېژندل کيږي، د هغۀ په حقله هم دا وئيلے شي چې د ملا مخفي سره يوځاے شوے او د دواړو متعلق دا وئيلے شي چې په مانوګي کښې استوګن دي ـ په لاره لۀ جلال اباد څخه د راستنېدو په مهال مولوي مخفي څو ورځې د ترنګزو د حاجي سره ايسار شۀ ـ پوليټيکل ايجنټ دوباره نواب ته د دير په حدودو کښې د مولوى مخفى د مسلسل اوسېدو په حقله ليک کړے دے ـ

د فيرنګي سرکار لۀ دي تاريخي ستاوېزاتو نه دا څرګنديږي چې د خال قامي مدرسه د فضل محمود مخفي د تعليمي هلو ځلو په نتيجه کښې قائمه کړے شوې وه ـ بلکي د انصاف تقاضا دا ده چې د رياستِ دير نوري قامي مدرسي او په آزاد قبائيلو کښې ځيني قامي مدرسي هم د فضل محمود مخفي د تعليمي هلو ځلو په نتيجه کښې مخې ته راغلي دي ـ ډېر پښتانۀ

محققین هم دا قامي مدرسي د فضل محمود مخفي کارنامه ګڼي ـ لکه همېش خلیل د فضل محمود مخفي د تعلیمي هلو ځلو په ضمن کښې لیکي:

"همدغه ورځو شپو کښې مخفي صاحب دیر، خال، کوټو او باجوړ ښار کښې څلور قومي مدرسي جوړي کړي او پخپله ورته د بابوقره علاقې په ډنډ نومي کلي کښې مېشته شۀ".[24]

سلیم الرحمان سلیم هم دا د فضل محمود مخفي کارنامه یادوي او لیکي:

"د دغه ځاے نه مخفي صاحب باجوړ ته لاړلو او په باجوړ ښار، دیر، خال او کوټو کښې څلور قومي مدرسي پرانستې".[25]

صدیق الله رښتین هم د خال قامي مدرسه د فضل محمود مخفي کارنامه بولي او لیکي:

"پس لۀ هغه د دیر ریاست ته لاړ، هلته په خالونو کښې دېره شۀ او خپله مجاهده او علمي لارښودنه ئې شروع کړه ـ دغلته ئې د خلقو د تعلیم د پاره یوه اسلامي مدرسه جوړه کړه چې نزدې پینځه کاله په ښۀ شان اوچلېده ـ مګر په اخر کښې د ځینو سیاسي خبرو په وجه د انګرېزانو په لمسه د دیر نواب شاه جهان له خوا بنده کړے شوه".[26]

د صدیق الله رښتین دا اقتباس تر دې حده خو په حقیقت مبني دے چې د خال دا قامي مدرسه د فضل محمود مخفي په کوششونو په وجود کښې راغلي وه ـ ولې خو دا خبرې چې دا قامي مدرسه پینځه کاله په ښه شان چلېدلې وه او د دیر د نواب شاه جهان لۀ خوا بنده کړے شوے وه، د تاریخي شواهدو سره سمون نۀ خوري، لکه وړاندې ئې چې تذکره وشوه ـ ځینې پښتانۀ محققین داسې هم شته چې دا قامي مدرسي او بالخصوص د خال قامي مدرسه د عبدالغفار خان کارنامه ګڼي او فضل محمود مخفي ورسره د یو مرستیال په توګه تسلیموي چې د تاریخ شواهدو او حقائقو سره سمون نۀ خوري ـ لکه خدائي خدمتګار سید محمد فصیح باچا په خپل کتاب "د آزادی تحریک کښې زما برخه" کښې د خال د دې مدرسي متعلق لیکي:

"(باچاخان) په دیر خال کښې ئې د علاقې د خلقو او مولوي فضل محمود مخفي صاحب په ملاتړ او مرسته مدرسه پرانیسته چې انتظام ئې د مخفي صاحب په لاس وۀ او په لږه موده کښې ئې شاګردان څلور سوه ته ورسېدل".[27]

دغه شان ایاز ایسپزے په خپل کتاب "خپل اتلان وپېژنئ" کښې لیکي:

"هغهٔ (باچا خان) د مولوي فضل محمود مخفي صاحب په مرسته د پښتونخوا د دير سيمې په خال نومې کلي کښې د يوې آزادې مدرسې بنياد کېښودهٔ . ځائي خلقو دغه کار ډېر وستائيلو او په ګڼ شمېر کښې يې خپل ماشومان دغه مدرسې ته ولېږل . خو ډېر زر د ملاکنډ پوليټيکل ايجنټ په حکم د دير نواب شاه جهان دغه سکول ونړولو او باچا خان او فضل محمود مخفي ئې د دير څخه وويستل . ياده دې وي چې دغه مدرسې له د خال د هغه وخت يو نوموړي سوداګر ښاغلي باچا محمد پراچه (د ميا سېد پراچه زوي) زمکه او پېسې ورکړې وې . څوک چې وروستو د دير نواب ډېر وزورلو".[28]

د خال د قامي مدرسې په حقله د سيد محمد فصيح باچا او اياز ايسپزي دا اقتباسات ځينې تاريخي تېروتنې لري چې وضاحت به ئې د افاديت نه خالي نهٔ وي . لکه د خال دا قامي مدرسه عبدالغفار خان د فضل محمود مخفي په مرسته نهٔ وه جوړه کړې بلکې د فضل محمود مخفي د تعليمي هلو ځلو په نتيجه کښې قائمه شوې وه . د زده کوونکيو شمېر ئې څلورو سوو ته نهٔ وهٔ رسېدلے بلکې پينځه څلوېښت زده کوونکي ئې لرل . د ملاکنډ پاليټيکل ايجنټ په وينا نهٔ بلکې د د سپه سالار صفدر خان په ايماء او د نواب اورنګ زېب خان په سپارښتنه ولي عهد شاه جهان ورانه کړې وه . عبدالغفار خان په دې بنياد نواب لهٔ رياستِ دير څخه نهٔ دے ويستلے بلکې د خپلې دورې پوره کېدو نه وروستو خپلې علاقې ته ستون شوے دے . د خال د قامي مدرسې  د پاره زمکه د خال نوموړي تاجر بادشاه محمد سېټ نهٔ وه ورکړې بلکې د هغهٔ پلار ميا سيد سېټ دغه زمکه اخيستې وه البته ځوے بادشاه محمد سېټ ئې وروستو معاون ضرور پاتې شوے دے . لکه د فېرنګي سرکار د کال 1933ء په يو خفيه رپورت کښې هم د دې بادشاه محمد سېټ متعلق دا ليکلے شوي دي چې هغهٔ د دير يو شتمن تاجر دے او د خال د فيرنګي ضد مدرسې سره منسلک دے:

Badshah Mohd (Muhammad): Paracha of Khal, son of Mian Said, who is still alive, and was connected with an anti-British School at Khal. A prominent trader is reported to be the richest man in Dir and is said to be owed a considerable sum of money by the Nawab.[29]

ژباړه: بادشاه محمد د خال پراچه او د میا سید څوے چې اوس هم ژوندے دے او د خال د فیرنګي ضد مدرسي سره منسلک وۀ . یو نوموړے تاجر دے او وئیلے شي چې د ریاستِ دیر یو شتمن سړے دے . دا هم وئیلے شي چې څۀ معقول روپی ئې د نواب په ذمه هم واجب الادا دي .

ډاکټر محمد سهیل خان په دې اساس فضل محمود مخفي د پښتنو وړومبے ځائي (Indigenous) ماهرِ تعلیم تسلیموي . دغه شان ئې د پښتنو د درې تعلیمي تحریکونو باني ګڼي . لیکي:

"مخفي صاحب چې چرته هم تلے دے نو هلته یې د تعلیم او تدریس سلسله شروع کړې ده . د پښتنو درې مهم تعلیمي تحریکونو باني مخفي صاحب دے . اولنے تحریک کال 1910ء حاجي صاحب ترنګزو شروع کړۀ نو دا یې د مخفي صاحب د فکري اثراتو لاندې شروع کړے وۀ . دا تعلیمي تحریک 1910ء تا 1915ء پورې جاري وۀ . دغه رنګ په سوات ریاست کښې اولنے سکول هم مخفي صاحب په مارچ 1922ء کښې جوړ کړے وۀ . په دې سکول جوړولو باندې په مخفي صاحب فېرنګي دا تور ولګولو چې دے د بالشویک نظریات خوروي او دا اراده هم لري چې په ټوله قبائیلي سیمه کښې دا قسم سکولونه جوړ کړي . دې سره سم په کال 1920ء دسمبر کښې د مخفي صاحب او د عبدالاکبر خان اکبر ملاقات کیږي . په لکړو (مهمندو) کښې او مخفي صاحب عبدالاکبر خان اکبر د قوم خدمت ته بېداروي او کله چې په اپریل 1921ء کښې د انجمن اصلاح الافاغنه بنیاد کېښودے شۀ نو دا د مخفي صاحب د ارمانونو جنګ وۀ".[30]

الغرض لۀ دې تاریخي شواهدو نه دا څرګنده شوه چې د خال د دې قامي مدرسي د بنیاد تېږه د 30 اپریل 1922ء نه وړاندې هفته کښې د فیرنګي ضد مبارز شهزاده صاحب (ریحان کوټ) په لاس د فضل محمود مخفي د تعلیمي هلو ځلو د اثر لاندې ایښودے شوې وه . په دې بنیاد د فیرنګي سرکار په خفیه دستاویزاتو کښې دا مدرسه د فضل محمود مخفي د قامي مدرسي په نامه هم یاده شوې ده . د فضل محمود مخفي او هندوستاني ملا محمد فقیر په نګرانۍ کښې او سرپرستۍ کښې د دې تعمیراتي کار سر ته رسېدلے دے

چې زمکه ورله د خال میا سېد سېټ په اتۀ ویشت زره کابلۍ باندې اخیستې وه او بیا ئې ځوے بادشاه محمد سېټ هم د دې قامي مدرسې سره منسلک پاتې شوے دے . فضل محمود مخفي د دې قامي مدرسې د پاره د اخلاقي او مالي تعاون د پاره مختلف هڅې کړي دي . دا قامي مدرسه د نورو مشکلاتو سره سره د مالي مشکلاتو سره هم مخ شوې ده چې په نتېجه کښې ئې په زده کوونکیو او استاذانو کښې کمے راغلے دے . په یو کال کښې ئې د زده کوونکیو شمېر رع پینځه څلوېښت پورې رسېدلے وۀ . دا قامي مدرسه تقریبا یو کال پس د ریاستِ دیر د سپه سالار صفدر خان په ایماء او د نواب اورنګ زیب خان په حکم ولي عهد شاه جهان خان ورانه کړې وه چې فضل محمود مخفي یو ځل بیا هم ودانه کړې وه او خسته حال ودانې ئې اوس هم موجود ده .

حوالې:

---

[1] عبدالغفار خان، **زما ژوند او جدوجهد، کابل دولتي مطبعه افغانستان، ۱۹۸۳ء ، ص: ۱۷۸**

[2] عبدالغفار خان، **زما ژوند او جدوجهد، ص: ۱۷۹**

[3] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 29 October 1920, Deputy Commissioner Peshawer, Bundle No. 5, File No. 57, Directorate of Archives Peshawar, Page: 219

[4] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 05 November 1920, Deputy Commissioner Peshawer, Bundle No. 5, File No. 57, Directorate of Archives Peshawar, Page: 225

[5] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 13 November 1920, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 57, Directorate of Archives Peshawar, Page: 231

[6] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 30 April 1922, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 61, Directorate of Archives Peshawar, Page: 71

[7] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 06 April 1920, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 57, Directorate of Archives Peshawar, Page: 71

[8] عبدالغفار خان، **زما ژوند او جدوجهد، ص: ۱۹۰**

[9] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 09 September 1922, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 59, Directorate of Archives Peshawar, Page: 04

[10] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 20 January 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 07

[11] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 29 January 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 11

[12] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 03 January 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 15

[13] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 26 February 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 27

[14] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 05 March 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 32

[15] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 29 May 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 84

[16] سلیمان شاہد، گمنام ریاست، جلد اول، دانش پبلشنگ ایسو سی ایشن پشاور، اشاعت دوم۲۰۰۶، ص:۲۲۵

[17] میر منشی، حبیب الرحمان، ریاست دیر تاریخ کے آئینے میں، منظور عام پریس پشاور، (س۔ن)، ص:۱۰۳

[18] میر منشی، حبیب الرحمان، ریاست دیر تاریخ کے آئینے میں، ص:۱۰۵

[19] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 26 May 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 84

[20] Confidential, Who,s Who in the Dir, Swat and Chitral Agency, Government of India Press, 1933, Page: 08

[21] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 07 July 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 123

[22] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 14 July 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 128

[23] Confidential, North West Frontier Provincial Dairy, Dated: 28 July 1923, Deputy Commissioner Peshawar, Bundle No. 5, File No. 62, Directorate of Archives Peshawar, Page: 138

[24] همېش خلیل، پښتانهٔ لیکوال، وړومبے ټوک، یونیورسټي پبلشرز پېښور، جولائي ۲۰۱۰ء، ص: ۵۰

[25] سلیم، سلیم الرحمان، غازي مولانا فضل محمود مخفي، مشموله: دوه میاشتنی پښتو، جلد: ۱۳، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، مئي / جون ۱۹۸۱ء، ص: ۹۹

[26] رشتین، صدیق الله، نومیالي پوهان او غازیان، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، ۱۹۸۸ء، ص: ۹۴

[27] باچا، سید محمد فصیح، د آزادئ په تحریک کښې زما برخه، باچا خان ریسرچ سنټر، باچا خان مرکز پېښور، ۲۰۲۲ء، ص: ۱۵

[28] ایاز ایسپزے، خپل اتلان وپېژنئ، منګل کتاب کور پېښور، دسمبر ۲۰۱۹ء، ص: ۳۲۶

[29] Confidential, Who,s Who in the Dir, Swat and Chitral Agency, Government of India Press, 1933, Page: 06

[30] محمد سهېل خان، ډاکټر، څېړنې، اعراف پرنټرز اینډ پبلشرز پېښور، فروري ۲۰۱۹ء، ص: ۷۸، ۷۹